مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د غویي ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د مي ۱۲مه | درېیم کال| ۳۷۱یمه گڼه

# د افغان حکومت کمزورې ډيپلوماسي؛

## افغان پوځ ته ځانگړې شوې پيسې د مکسيکو او امريکا ترمنځ پر دېوال لگول کېږي



۳

که د امريکا مرستې کمېږي؟
۲ مخ

افغانستان ته د چن جو سفر
۲ مخ

په افغانستان کې به د سولې خبرې له پيل مخکې له ناکامۍ سره مخامخ شي؟
۳ مخ

## نامعلومو وسله والو د ولسي جرگې د فرهنگي کمېسيون غړې مينه منگل وژلې ده

پخوانۍ خبرياله او د ولسي جرگې د فرهنگي کمېسيون مشاوره، مينه منگل تېره ورځ په کابل کې د ناڅرگندو کسانو په برید کې وژل شوې ده.

د کورنيو چارو وزارت وياند نصرت رحيمي پر خپله ټوېټرپاڼه ليکلي، چې اغلې منگل اووه بجې او ۲۰ دقيقې د کابل ښار د اتمې امنيتي حوزې اړوند، کارته نو سيمه کې ترور شوې ده.
د کورنيو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، بريد کوونکي د پېښې له ځايه تښتېدلي دي او په دې اړه دوی څېړنې پيل کړې دي.
که څه هم تر دې مهاله د نومورې د ترور انگېزه معلومه نه ده، خو ويل کېږي چې هغه د کورنۍ تاوتريخوالي قرباني شوې ده.
د ولسي جرگې غړې راضيې سادات منگل امريکا غږ ته ويلي، نومورې له بېوزلې کورنۍ څخه وه او د خپلې کورنۍ د نفقې پيدا کولو لپاره يې د خپل تقاعد شوي پلار اوږه سپکه کړې وه. نومورې زياته کړه چې مينې منگل ته تر دې مخکې هم د ناڅرگندو کسانو لخوا پر ټليفون گواښونه کېدل.
د افغانستان د خپلواکو ژورناليستانو د ملاتړ بنسټ مرستيال حجت الله مجددي امريکا غږ ته ويلي: «له حکومت څخه غواړو چې د دې لړۍ مخنيوی وکړي، جدي اقدامات وشي چې دغه لړۍ نوره بنده شي، حکومت بايد د خبريالانو امنيت ته جدي پام وکړي». د يادونې ده چې د روان ۲۰۱۹ ز کال له پيله تر دا مهاله، پنځه افغان خبريالان د ناڅرگندو کسانو له خوا وژل شوي او دوه نور ټپيان شوي دي.

## ډېر ژر به له طالبانو سره د مرکچي پلاوي نوملړ وروستی شي



۵ مخ

## پوهنتون


۴ مخ

### سپين غر د لوړو زده کړو موسسه

د سپين غر د لوړو زده کړو موسسه ۱۲۱ استادان لري، چې له دې ډلې يې لس تنه د دوکتورا، ۷۱ يې د ماسترۍ او پنځوس نور يې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.




## په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د جغرافيايي نښانو سيستم جوړېږي



ټاکل شوې چې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د «د جغرافيايي نښانو» يا «GI» سيستم جوړ او د افغانستان د تر ټولو عمده کرنيزو توکو له ډلې زعفران، د کندهار انار او د جلغوزيو ځانگړتياوې په کې ثبت شي.
دغه سيستم د کرنې، اوبولگولو او مالدارۍ وزارت له خوا د ملگرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان «FAO» په همکارۍ او په کابل کې د اروپايي ټولنې د استازولۍ د دفتر او «GIZ» موسسې په مالي ملاتړ جوړېږي. دغه سيستم په دريو پړاوونو کې چې د قوانينو او ځانگړو تقنيني سندونو تدوين، د محصولاتو ثبت او د دغه سيستم ملاتړ او خوندي کول شامل دي، پلی کېږي.
د دې پروژې په لومړي پړاو کې د اروپايي ټولنې او «GIZ» موسسې له خوا ۴۶ ميليونه افغانۍ پانگونه کېږي، چې دا پړاو به د يوه کال په ترڅ کې بشپړ شي.

## رئيس شورای ولايتی هرات: ۵۰ درصد عوايد گمرک حيف و ميل می‌شود



رئيس شورای ولايتی هرات، از فساد گسترده در گمرک اين ولايت انتقاد کرده و مدعی شده است که ۵۰ درصد درآمد اين گمرک به دليل عدم محصول کالاهای وارداتی، حيف و ميل می گردد.
کامران علی زايی رئيس شورای ولايتی هرات، ديروز در يک نشست خبری گفته است، اسنادی به دست دارد که نشان ميدهد درآمد گمرک هرات حيف و ميل می گردد.
به گفتهٔ موصوف، اين اسناد نشان ميدهد که در برخی موترها، قالين گنجانيده شده؛ اما بخاطريکه محصول گمرکی قالين زياد است، اين اموال، زير نام ظروف شيشه يی که محصول گمرکی‌اش ارزان تر است، محصول شده است.
او خاطرنشان ساخت که حتی در برخی موترها ۴۰ تُن اموال بار دارد؛ اما در اسناد گمرکی، از ۲۰ تُن محصول شده است که اين از يک سو فرار عوايد را نشان ميدهد و از سوی ديگر سبب تخريب شاهراه با اضافه وزن موترها شده است.
وی افزوده است: «۵۰ فيصد از عوايد گمرک هرات حيف و ميل می‌شود، دولت اگر ميخواهد جدی و قاطع کار بکند، اسناد کافی به دسترس است». رئيس شورای ولايتی همچنان هيئت های فرستاده شده از سوی مرکز کشور به منظور بررسی فساد در گمرک اين ولايت را بدون بررسی و گرفتن معلومات دوباره، به مرکز کشور رفته است.
در همين حال، جيلانی فرهاد سخنگوی والی هرات گفته است، که اداره محلی حاضر است هر اسنادی مبنی بر موجوديت فساد در گمرک اين ولايت را به گونهٔ جدی بررسی و با عاملين آن برخورد کند.



## دریځ

### که د امریکا مرستې کمېږي؟

د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو جزیات لا هم پټ دي. یوازې دومره ویل کېږي چې د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه کارولو خبرې شوې دي. دغه راز خلیلزاد وایي چې اوربند او له افغان حکومت سره خبرې هم د اجنډا برخه وې، خو طالبان وایي چې دا د افغانستان کورنۍ چاره ده او له امریکا سره له توافق وروسته به پرې له افغانانو سره خبرې کوي.

د هر پړاو په پیل کې ویل کېږي، چې دا ځل به نوې خبرې کېږي. د هر پړاو په پای کې یوازې د پرمختګ خبره کېږي، خو جزیات یې نه وي. که د خبرو جزیات نشته، خو څه داسې بدلونونه شته چې پر مټ یې موږ کولی شو، پوه شو چې څه لوبه روانه ده. تر ګردو لومړی موږ پوهېږو چې امریکا غواړي د سولې له لارې هغه څه تر لاسه کړي چې په جګړه کې یې ترلاسه کول ورته ستونزمن وو؛ له همدې امله اوس له طالبانو سره خبرو ته حاضره شوې او د جګړې پر ځای د سولې خبرې کوي. روښانه معلومېږي چې امریکا غواړي په افغانستان کې خپل نظامي ځواک کم او بدل کړي او یو بدلون ته لاره برابره کړي. دا چې دا بدلون پوره سوله دی او که نه، بېل بحث دی، خو امریکا نور نه غواړي چې اوسنی حالت دوام وکړي.

له بده مرغه په کابل کې لا هم دا فکر واکمن دی چې امریکا به له موږ سره مرسته کوي او موږ به له طالبانو سره همداسې جګړې ته دوام ورکوو. دوی لا هم فکر کوي چې امریکا به ورته طالبان ماتوي او یا به یې هم اړ کوي چې د دوی د خوښې سوله وکړي. همدا تېروتنه ده چې موږ یوې بلې تیارې ته وړي. افغان دولت هېروي چې امریکا نور دغه جګړه نه غځوي او نه هم طالبانو ته د تسلیمۍ خبره کوي. امریکا اوس طالبانو ته ارزښت ورکوي، د خبرو لپاره ورته ځانګړې استازی ټاکي، بیا بیا کتنې ورسره کوي او د طالبانو د غوښتنو منلو ته تیارېږي، نو چې کله امریکا له ټول قوت سره خپل دریځ بدلوي، حکومت ته پکار ده چې خپل دریځ بدل کړي، که نه په طبیعي ډول زیان کوي. کله چې امریکا له طالبانو سره توافق کوي او آن معامله ورسره کوي، نو دا لرې نه ده چې یو مخ به اوسني حکومت ته شا کړي. تازه ویل شوي چې له افغان امنیتي ځواکونو سره به د امریکا مرستې کمېږي. رویټرز اژانس ویلي چې امریکا د افغان ځواکونو لپاره ځانګړي شوي شپږ سوه میلیونه ډالره له مکسیکو سره پر جوړېدونکي دېوال لګوي. که پر تاریخ له ټینګار او احساساتي خبرو را تېر شو، له امریکا پرته، نه دا حکومت دوام کوي او نه هم بل داسې کوم بدیل شته چې د امریکا ځای ډک کړي، نو حکومت ته پکار ده چې خپل دریځ ته له سره کتنه وکړي.

پر بې ارزښته او کم ارزښته مسایلو ټینګار، د واک د انحصار او دوام حرص او له روانو حالاتو کمزوری درک به نه یوازې اوسني چارواکي کندې ته وغورځوي، بلکې افغانستان به له ستونزو سره مخ کړي. له همدې امله پکار ده چې حکومت او سیاستوال له طالبانو سره د خبرو او جوړجاړي لپاره له شرطونو او خنډ جوړولو تېر شي او یو پراخ خپلمنځي تفاهم ته لاره هواره کړي.

# افغانستان ته د چن جو سفر

راپور: په افغانستان کې د چین لوی سفارت



د چین د ملي ولسي کانګرېس د دایمي کمېټې مرستیال، د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوالې ګډې ټولنې مرستیال او د چین د سره صلیب ټولنې رییس، چن جو د مې له څلورمې تر پنځمې د چین د سره صلیب ټولنې د پلاوي په مشرۍ، افغانستان ته سفر وکړ او د دغه سفر په ترڅ کې یې له ولسمشر محمد اشرف غني، لومړۍ مېرمنې رولا غني، د عامې روغتیا وزیر ډاکټر فیروزالدین فیروز او د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې له سرپرستې رییسې ډاکټرې حسن بانو غضنفر سره وکتل او د هغو افغان ناروغو ماشومانو پوښتنه یې وکړه، چې د زړه پر مورزادي ناروغۍ اخته دي او د چین د سره صلیب ټولنې مرستندویه طبي ډله یې درملنه کوي. چن جو او ملګرو یې په افغانستان کې د چین د سفارت د کارکوونکو او د چیني کارګرو د استازو پوښتنه هم وکړه. دغه راز د چین په سفارت کې یې د افغانستان د طبي ټولنې په ځانګړې مېلمستیا کې ګډون وکړ او د کابل له جمهوریت روغتون څخه یې هم لیدنه وکړه.

په افغانستان کې د چن جو او د نومورې د ملګرو تود هرکلی وشو او سفر یې ډېر بریالی و. د یادو بېلابېلو اجنډاوو پر مهال، له یاد پلاوي سره د چین لوی سفیر لیو جین سونګ هم ملګری و.

چن جو له بشري مرستندویه چارو او د چین او افغانستان ترمنځ د طبي همکاریو د ملاتړ له امله له ولسمشر اشرف غني او لومړۍ مېرمنې رولا غني څخه مننه وکړه او ویې ویل چې د چین سره صلیب ټولنې او د افغانستان سرې میاشتې ټولنې د دواړو هېوادونو د مشرانو تر پاملرنې او لارښوونې لاندې په افغانستان کې طبي مرستندویه فعالیتونه په بریالیتوب ترسره کړي دي. چین او افغانستان دوستانه ګاونډي هېوادونه دي. په دې وروستیو کلونو کې د چین سره صلیب ټولنې په فعاله توګه د یو کمربند- یوې لارې په چوکاټ کې د بشري مرستو په برخه کې له نورو هېوادونو سره د نظر تبادلې او ګډې همکارۍ کړې او ډېرې ښې اغېزې یې رامنځته کړې، چې افغانستان هم ترې ګټې اخیستې دي.

د چین سره صلیب ټولنې په تېر څه باندې یو کال کې د هغو سلو افغان ماشومانو چې د زړه پر مورزادي ناروغۍ اخته وو، درملنه وکړه او خپله ټاکلې موخه یې ترسره کړه چې له امله یې د یادو سلو ماشومانو او د دوی د پلرونو او میندو په شونډو مسکا خوره کړه.

یاد کار په افغانستان کې د چین د سره صلیب ټولنې د بشري مرستندویه پروګرام لومړی ګام دی او په راتلونکي کې به دویم او درېیم ګام او لا نور ګامونه به پورته شي. د چین سره صلیب ټولنه او د افغانستان د سرې میاشتې ټولنه به په سږني او راتلونکي کال کې خپلمنځي همکاریو ته دوام ورکړي او د لا زیاتو افغان ماشومانو معاینه به وکړي او له معاینې وروسته به د ۳۰۰ نورو ناروغو ماشومانو درملنه هم وکړي.

همدارنګه چین به له افغانستان سره د طبي درملنې د وړتیا او سویې د لوړولو لپاره همکارۍ وکړي او افغان طبي کارکوونکو ته به د یادو ناروغو ماشومانو د عملیاتو په برخه کې مرستې برابرې کړي. د چین سره صلیب ټولنه به د یادو افغان ناروغو ماشومانو پر درملنې سربېره، د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې له لارې د طبیعي پېښو قربانیانو ته هم مرستندویه مواد او بېړنۍ بشري مرستې برابرې کړي او د افغانانو لپاره به د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ځانګړي روزنیز ټولګي هم پرانیزي.

چن جو د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې کارونه او د نړیوالو همکاریو وړتیاوې وستایلې او څرګنده یې کړه، چې هغه به د سره صلیب او سرې میاشتې نړیوالې ټولنې د مرستیال په توګه د بېلابېلو هېوادونو د سره صلیب او سرو میاشتو ټولنو ترمنځ همکارۍ وهڅوي، څو دوی له خپلو سرچینو په استفادې او ګډې همکارۍ سره افغانستان ته زیاتې بشري مرستې برابرې کړي او د انسانانو د ګډ برخلیک ټولنې د جوړولو لپاره خدمتونه وکړي.

چن جو له هغو فارغو شوو افغان محصلینو سره هم خبرې وکړې، چې په چین کې یې طبي زده کړې کړې دي. هغوی یې دې ته وهڅول چې خپلې پوهې او مهارتونه وکاروي او له هغو ارزښتناکو لاسته راوړنو څخه په استفادې، چې په چین کې یې زده کړې دي، د خپل هېواد سوله ییزې او بیارغونې چارې پر مخ یوسي او د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ پوهاوی او لرغونې دوستي ټینګه کړي.

ولسمشر اشرف غني له چن جو سره د کتنې پر مهال د یادو ناروغو افغان ماشومانو د درملنې او نورو مرستندویه چارو په پار مننه وکړه او د دغو ماشومانو د پالنې لپاره یې د زیارونو په پار، د چین د اورمچې ښار او نورو ځایونو له طبي کارکوونکو څخه هم مننه وکړه او څرګنده یې کړه چې افغانستان به د یو کمربند او یوې لارې د ګډې جوړونې له لارې، د دواړو هېوادونو ترمنځ د بېلابېلو برخو همکارۍ پراخې کړي.

لومړۍ مېرمنې رولا غني د افغانستان بشري مرستندویه چارو ته د اوږدمهاله خدمتونو په پار، د چین له سره صلیب ټولنې څخه مننه وکړه او ویې ویل چې افغانان د چین له ملاتړ څخه ډېر متاثر شوي دي. یو متل دی وایي، نورو ته د کبانو نیولو طریقه ورزده کول، د کبانو تر ډالۍ کولو ښه دي. افغانستان ته د طبي توان پیاوړي کول ډېر ضروري دي، هیله ده چې چین په دې برخه کې افغانانو ته د روزنې زیاتې زمینې برابرې کړي.

چن جو له لومړۍ مېرمنې رولا غني سره یوځای د هغو افغان ناروغو ماشومانو پوښتنه وکړه، چې د زړه پر مورزادي ناروغۍ اخته دي او درملنه یې اوسمهال د چین سره صلیب ټولنه کوي. چن جو دغو ماشومانو ته د پانډاګانو په بڼه د لوبو سامان الات ډالۍ کړل، چې د ماشومانو او د دوی پلرونو او میندو لخوا یې تود هرکلی وشو.

وزیر ډاکټر فروزالدین فیروز د افغانستان له روغتیایي چارو څخه د ملاتړ په پار، له چین څخه مننه وکړه او د دواړو هېوادونو ترمنځ په تلپاتې متقابلې مرستې یې وياړ وکړ. نوموړي وویل، د زړه پر ناروغۍ اخته ماشومان عادي ژوند نه شي کولی او د دې له امله یې کورنۍ چې اصلاً بې وسه او بې وزله دي، لاستونزمن ژوند تېروي، د چین د سره صلیب ټولنې دغو کورنیو ته زیرۍ راوړی او امید یې ورته پیدا کړی دی، هیله ده چې د دواړو هېوادونو ترمنځ طبي همکارۍ لاپسې پراخې او ژورې شي.

د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې سرپرستې رییسې حسن بانو غضنفر په خپلو خبرو کې وویل ، د چین د سره صلیب ټولنې له افغانستان سره نه یوازې د ناروغو ماشومانو د درملنې ، بلکې د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې هم مرسته کړې، چې له دې څخه د دوی د بشري مرستو احسان ښکاري او افغانان ورڅخه مننه کوي او په یاد به یې وساتي. هیله ده چې د چین د سره صلیب ټولنه د زیاتو افغان زړه ناروغۍ لرونکو ماشومانو درملنه وکړي او په دې برخه کې له افغانستان سره مرستې وکړي او د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې د توان لوړولو په برخه کې ورته مرستې برابرې کړي.

د افغانستان د سرطان صندوق لومړي اجراییوي رییس جاوید صافي په خپلو خبرو کې وویل، چې د چین د حکومت په مرستې سره مې په چین کې طبي زده کړې ترسره کړې او له فراغت وروسته بېرته افغانستان ته ستون شوم او د افغانانو د روغتیا او ژوند د وضعیت د ښه والي په موخه مې د سرطان صندوق په جوړولو کې برخه واخیسته . نوموړي له نړۍ د چین د ساینس او ټکنالوژۍ ستر پرمختګونه لیدلي او هیله یې وښودله، چې چین په تلپاتې توګه د طبي او روغتیایي چارو په تېره بیا د سرطان د مخنیوي په برخه کې افغانستان ته مرستې برابرې کړي.

چن جو د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې له سرپرستې رییسې حسن بانو عضنفر سره یوځای په یوه ګډه مطبوعاتي غونډه کې ګډون وکړ او د دواړو مشرانو په شتون کې د چین سره صلیب ټولنې او د افغانستان سرې میاشتې ټولنې د زړه پر ناروغۍ د اخته افغان ماشومانو د درملنې په اړه د همکارۍ تړون تمدید کړ.

چن جو د چین د سره صلیب ټولنې په استازیتوب له سیلاب ځپلو افغانانو سره د مرستې لپاره د دغه هېواد سرې میاشتې ټولنې ته د ۲۰۰ زرو امریکایي ډالرو په ارزښت بېړنۍ مرستندویه پیسې ورکړې.

دواړو مشرانو د افغانستان د سرې میاشتې ټولنې غوره رضاکارانو ته ستاینلیکونه ورکړل او دوی یې دې ته وهڅول چې د سره صلیب چارو لپاره خپلو زیارونو ته دوام ورکړي. د ښاغلي چن جو له وینا او د خبریالانو پوښتنو ته له ځوابونو څخه یې ډېر صمیمیت ښکاره شو او د خبریالانو او د دواړو هېوادونو د یادو دوو ټولنو کارکوونکو په تودو چکچکو بدرګه کړ.

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان: له غبرګولي وروسته د ولسمشر کار مشروعیت نه لري

د غبرګولي میاشتې په رانږدې کېدو سره راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته ځینې نوماندان د ملي یووالي حکومت د پای ته رسېدو په اړه د خپلې تګلارې په عملي کېدو ټینګار کوي.

دغو نوماندانو ویلي، د ولسمشر د کار موده په اساسي قانون کې پنځه کاله ښودل شوې او له غبرګولي وروسته د ولسمشر د کار دوام نامشروع او ناقانوني دی.

د ولسمشرۍ ټاکنو نوماند احمد ولي مسعود په دې اړه ویلي: «د افغانستان ټول خلک رسالت او مسوولیت لري چې په دې برخه کې د احتیاط خوا ونیسي او دا حکومت د غبرګولي له لومړۍ نېټې وروسته ناقانوني دی، د هغه غځول ناقانوني دي، شتون یې ناقانوني دی».

دا په داسې حال کې ده چې سترې محکمې د ولسمشر د کار دوام د د هېواد د لوړو مصلحتونو، اوسني وضعیت او فقهي احکامو له مخې تایید کړی دی، خو حقوقپوهان ستره محکمه د اساسي قانون د تفسیر مرجع نه بولي.



د حقوقپوهانو د ټولنې مرستیال ګل احمد مددزي ویلي: «د افغانستان ولسمشران د دې پر ځای چې قانون ته د نه درناوي په پار استجواب شي، وپوښتل شي او مسوولیت ته وکاږل شي، ورته دوامداره امتیاز ورکول کېږي چې دا ناوړه دود او د قانون پر خلاف کار دی». که څه هم د اساسي قانون د تفسیر مرجع روښانه نه ده او دا کار د سترې محکمې له صلاحیتونو څخه نه ګڼل کېږي، دغه بنسټ د پخواني ولسمشر پر مهال هم دا ډول کار کړی دی.

د حقوقي چارو کارپوه ارش شهیرپور هم په دې اړه ویلي: «که‌چېرې دواړه ډول تفسیر ته دقت وکړو، د ولسمشر کار پای ته رسېدلی او نور حقوقي منطق نه لري، که چېرې حقوقي حللاره ولټوو، د افغانستان په اساسي قانون کې حللارې مشخصې دي».

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د وري له میاشتې د چنګاښ نهه ویشتمې ته وځنډول شوې او وروسته بیا د دغو ټاکنو وخت د تلې شپږمې ته بدل شو، خو دا کار د ولسمشرۍ د ځینو نوماندانو له غبرګون سره مخامخ شو.

# په افغانستان کې به د سولې خبرې له پیل مخکې له ناکامۍ سره مخامخ شي؟

لیکوال: کای آیډي / ژباړه: ډاکټر ځیرک یوسفي

د افغانستان د سولې بهیر وار له مخه له جدي ستونزې سره مخامخ دی؟ په دوحه کې د امریکایانو او طالبانو ترمنځ خبرې رواني دي، چې یو ښه کار دی. سولې او پخلاینې ته ځانګړې شوې لویه جرګه جوړه شوه، خو ډېرو مخورو سیاسیونو تحریم کړه. په مسکو کې هم د افغان سیاسیونو یوې ډلې د فبرورۍ په میاشت کې له طالبانو سره د مذاکراتو د پیل په موخه غونډه وکړه، خو د دې ډول خبرو اترو د دوام لپاره هڅې هغه وخت له ستونزې سره مخامخ شوې، چې کابل د ۲۵۰ کسانو یو نه باورېدونکی نوملړ وړاندې کړ. دا چې د دې ناکامۍ مسوولیت د چا په غاړه دی، زه یې په اړه قضاوت کول نه غواړم.

حقیقت دا دی چې لا تر اوسه د افغانانو په مشرۍ او مالکیت خبرې نه دي پیل شوې او نهه میاشتې کېږي چې امریکایي لوري له طالبانو سره له افغانستانه د خپلو پوځونو د وتلو په سر مذاکرات پیل کړي دي. د بین‌الافغاني مذاکراتو د نه پیل لامل یوازې دا نه دی، چې طالبان لا تر اوسه افغان حکومت د یو مشروع حکومت په توګه په رسمیت نه پېژني. دا دومره ساده هم نه ده. که چېرې له طالبانو دا تمه ولرو چې ناڅاپي دې هغه حکومت چې له ۱۸ کلونو راهیسې ورسره په جګړه کې ښکېل دی، په رسمیت وپېژني؛ دا به ډېره غیر واقع بینانه وي.

اوسنی په ټپه ولاړ حالت له دې امله هم رامنځته شوی دی، چې افغان سیاسي لوری پر دې نه دی توانېدلی، چې یو حقیقي مذاکراتي ټیم جوړ کړي چې په ټولیزه توګه د افغان ټولنې استازولي وکړای شي. د ۲۵۰ کسانو د نوملړ وړاندې کول چې په دوحه کې له طالبانو سره وګوري، د ستونزې اساسي اړخ رابرسېره کوي. له بل پلوه د ولسمشرۍ را روانې ټاکنې ستونزه نوره هم پېچلې کوي او له ننګونو سره یې مخامخ کړې ده. په خواشینۍ سره باید وویل شي چې د سولې بهیر د راتلونکو ټاکنو قرباني کېږي. که چېرې افغان سیاستوال دواړو بهیرونو ته په جلا نظر ونه ګوري، د سولې بهیر به له پیلېدو مخکې له بشپړې ناکامۍ سره مخامخ شي.

نو بیا د حل لاره څه ده؟ زما په اند دوه بنسټیز خنډونه مهم دي چې باید له منځه یوړل شي.

لومړی؛ افغان حکومت باید نور دوحې ته د یو حکومتي پلاوي پر استولو ټینګار ونه کړي. ولسمشر غني کولای شي چې ځینې د اعتماد وړ کسان له طالبانو سره د خبرو لپاره وټاکي، خو پلاوی باید له داسې کسانو جوړ وي چې په ښه توګه د افغان ټولنې استازولي وکړای شي.

دویم؛ نور ټول لوري باید دا خبره ومني چې که په مذاکراتو کې ټول شاملېدل وغواړي، نو واقعي مذاکرات ترسره کول به ناممکن شي. سترې غونډې لکه د مسکو ناسته، د بحث او خبرو اترو لپاره ګټورې دي، خو که واقعي مذاکرات ترسره کېږي، نو بیا کوچني مذاکراتي پلاوي جوړول اړین دي.

پورته خبرو ته په کتو سره ویلی شو، چې د اساسي مذاکراتو د پیل لپاره واقعیت پالنه او نظم یا ډسیپلین ډېر مهم دی. پرته له دغه ډول واقعیت پالنې او ډسیپلین څخه به هېڅکله د سولې واقعي بهیر رامنځ ته نه شي. بدترین حالت به هغه مهال رامنځته شي، چې نړیواله ټولنه نوره د ستړیا احساس وکړي او له افغان کشالې پښې وباسي.

زما په اند، په کابل کې ټول سیاسي اړخونه باید هڅه وکړي، چې د یو څو کسانو پر کوچني ټیم چې ۱۰-۱۵ کسان وي، سره سلا شي. زه پر کسانو ځکه ټینګار کوم چې باید داسې وانګېرل شي، چې دوی د یوې ډلې یا لوري استازولي هم نه کوي؛ بلکې د افغان ټولنې استازي دي. د ښځې په توګه، په پلاوي کې باید د ښځو با مفهومه ګډون ته چې د خپلو اړوندو ادارو لخوا پېژندل شوې وي، هم پام وشي.

طالبان نه شي کولای له دغه ډول پلاوي سره له کتلو مخ واړوي. په داسې حال کې چې دغه پلاوی په مستقیمه توګه له حکومت او یا کوم بل سیاسي لوري څخه استازولي ونه کړي. ځرګنده خبره ده چې د پلاوي هر غړی به یوې اداري یا یو کس ته مسوولیت لري او راپور به ورکوي. خو دا بیا په طالبانو پورې اړه نه لري چې نوموړي کسان چاته مسوولیت او په چا پورې اړه لري.

هیله لرم چې دغه ډول واقعیت پالونکی چلند به مرسته وکړي، چې د افغانانو ترمنځ د مذاکراتو د چمتووالي بهیر پیل شي.

زه موافق یم چې باید د ټولو خواوو حضور یقیني شي. خو دا موخه هغه مهال تر لاسه کېدای شي، چې د راپور ورکونې او همغږۍ منظم میکانېزم رامنځته شي.

سربېره پر دې، زه پر دې عقیده یم چې د سولې د بهیر لپاره د یو نړیوال استازي ټاکنه هم ډېره اړینه ده. که چېرې دغه ډول استازی د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا وټاکل شي، نو بهتره به وي. د متحده ایالاتو مذاکره کوونکی استازی، زلمی خلیلزاد نه شي کولای دغه رول ولوبوي. هغه د منازعې د یو اړخ استازولي کوي او هېڅکله بې طرفه نه شي پاتې کېدای.

د نوموړي نړیوال استازي رول به د هرې ناستې اسانچاري ترسره کول، د اجنډا جوړول او د پرېکړو راټولول او ورڅخه پایله اخیستل وي. سربېره پر دې، د ورته بهیر په دوران کې به داسې حالات هم رامنځته شي، چې پرته له شکه به خبرې له ماتېدو او په ټپه ولاړ حالات سره مخامخ شي. اسانچارۍ به بیا مرسته وکړي چې د دغه ډول خنډونو مخه ونیول شي او پر حل به یې برلاسي شي.

ځرګنده خبره ده چې دغه ډول نړیوال استازی باید داسې څوک وي، چې ټول اړخونه ورباندې باور ولري او ټولو ته د منلو وړ وي. دا هم مهمه ده چې دغه ډول نړیوال استازی باید له طرفینو سره پوره پېژندګلوي ولري او د افغانستان له موضوعاتو څخه پوره باخبره وي. وخت ډېر کم دی او د نوي کس ټاکل به پکې ممکن نه وي او ملګري ملتونه به هم ونه شي کړای، چې د داسې یو کس په لټه کې شي چې د ځانګړي هېواد تابعیت ولري او یا په کومه ځانګړې اداري پورې اړه ولري. دا د تجربو وخت نه دی.

زما په اند، ډېره جدي ننګونه د تشریفاتو او رسمیاتو او یا د وړ استازي نه موندل نه ده، بلکې اساسي ننګونه په افغان ټولنه پورې اړه لري. ایا دا به ممکنه وي چې پر یو کوچني مذاکراتي پلاوي سره سلا شي او واقعي مذاکرات ترسره شي؟ اوسمهال زه دومره خوشبینه نه یم. خو بله چاره همه نشته، که ټولې خواوې غواړي افغان جګړه پای ته ورسېږي او افغانانو ته یو سوله ییزه او هوسا ژوند برابر کړي، باید دغه ډول موافقه رامنځته شي.

# د افغان حکومت کمزورې ډیپلوماسي؛

## افغان پوځ ته ځانګړې شوې پیسې د مکسیکو او امریکا ترمنځ پر دېوال لګول کېږي



سره له دې چې په افغانستان کې روانې جګړې شدت موندلی او افغان پوځ جدي مالي مرستو ته اړتیا لري، خو امریکا له افغان پوځ سره مرسته شوې پیسې پر خپلو چارو لګوي. د امریکا د دفاع وزارت په تازه اقدام کې له مکسیکو سره د دېوال رغولو لپاره هغه پیسې ځانګړې کړې، چې ټاکل شوې وه افغان پوځ ته ورکړل شي.

د امریکایي رسنیو د راپورونو له مخې، د امریکا د دفاع سرپرست وزیر تازه له مکسیکو سره د دېوال رغولو لپاره ۱،۵ میلیارده ډالر تصویب کړي دي. دغه پیسې به دفاع وزارت د امریکا او مکسیکو ترمنځ پر پوله، د دېوال رغولو لپاره ورکوي. بل پلو رویټرز خبري اژانس ته بیا یوې سرچینې ویلي، چې په دې ۱،۵ میلیاردو ډالرو کې د افغانستان ۶۰۰ میلیونه ډالر هم شامل دي. دا پیسې له هغو مرستو ورکړل شوې چې امریکا افغان پوځ ته په خپلو ژمنو کې ورکړې وې.

د امریکا د دفاع سرپرست وزیر پاټریک شاناهان بیا په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې دا پیسې له سپما او په پروژو کې د تغیر له امله تر لاسه شوې. هغه ویلي: ((دا پیسې له مختلفو سرچینو ترلاسه شوې، لکه سپما، پروګرامونو کې بدلون او د پروژو بیا کتنه او په دې دلیل زموږ د ځواکونو پر توان ډېر کم اغېز کوي)).

یوه امریکایي چارواکي له نوم ښودلو پرته رویټرز خبري اژانس ته ویلي، د دغه دېوال لپاره د دفاع وزارت اوسني رقم کې ۶۰۴ میلیون ډالره هغه پیسې دي، چې د افغان ځواکونو لپاره ځانګړې شوې وې. په ۲۰۱۹ ز کال امریکا د افغان امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره څلور اعشاریه نه میلیارد ډالر ځانګړې کړل. دغه چارواکی وایي، کومې پیسې چې له دې حساب څخه ایستل کېږي، د افغان امنیتي ځواکونو اړوند تړونونو کې له سپما ترلاسه شوې دي.

یوه بل امریکایي چارواکي بیا ویلي، چې د دغو پیسو بېلول له افغان ځواکونو سره د امریکا د ژمنو ماتولو په مانا نه دي. د هغه په خبره، د ځینو پروژو لګښت د دوی تر ارزونې کم و، نو ځکه دومره پیسې سپما شوې دي او د مکسیکو پر دېوال به لګول کېږي. د هغه په خبره، دا لومړی ځل هم نه دی چې امریکا د افغان امنیتي ځواکونو له پیسو ګټه اخلي.

خو نوی ګام یې داسې مهال اخیستی دی، چې افغان پوځ تر بل هر وخت نړیوالو مرستو ته اړتیا لري او باید په دې توګه روانه جګړه کابو کړي. افغان حکومت بیا تر اوسه د دې مسئلې په اړه څه نه دي ویلي. سیاسي شنونکي او کارپوهان د حکومت دغه چوپتیا او کمزورې ډیپلوماسي هم غندي او پر حکومت غږ کوي، چې د خپلو ژمنو شوو مرستو د ترلاسه کولو لپاره باید پیاوړي ګامونه اوچت کړي. امریکا د امنیتي تړون له مخې اړ ده، چې هر کال له افغان پوځ سره مالي او نظامي مرستې وکړي، خو دغه ډول اقدامات یې د تړون ښکاره نقض او تړونونو ته نه ژمنتیا ثابتوي.

د ناټو یوه پخواني سلاکار او د افغانستان د چارو څارونکي بیا د امریکا دغه اقدام د اندېښنې وړ بللی، خو تر څنګ یې افغان حکومت هم پر کمزورې ډیپلوماسۍ تورنوي. د شفیق همدم په خبره، دا مسئله د امریکایي او افغان حکومت د ډیپلوماسۍ جدي کمزورتیا ځرګندوي. نوموړي ویلي: ((دا د ډیپلوماسۍ جدي کمزورتیا ده. دا مسئله ښیي چې افغان حکومت څومره په خپلو بهرنیو اړیکو کې کمزوری دی. د افغان پوځ پیسې په امریکا او یا نورو ځایونو کې لګول کېږي، خو افغان حکومت ناخبره دی)).

هغه زیاته کړې چې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه لا هم د سرپرستانو له لوري اداره کېږي، په افغانستان کې جګړه توده ده، د امریکا او افغانستان ترمنځ ډیپلوماسي کمزورې ده، نو په داسې وخت کې د امریکا دغه ډول اقدامات به د جګړې او سولې پر پروسې اغېز ولري. پنټاګون داسې مهال دغه اقدام کوي، چې تر دې وړاندې ولسمشر غني له افغان پوځ سره د امریکا مرستې خورا مهمې بللې وې. ولسمشر غني له سي بي ایس نیوز ټلوېزیون سره په خبرو کې ویلي وو، که د امریکا مرستې نه وي، نو افغان پوځ به شپږ میاشتې هم دوام ونه کړي. سره له دې چې له افغان پوځ سره د امریکا مرستې تر دې حده مهمې دي، خو بیا هم دغه پیسې د امریکا پر کورنیو پروژو لګول کېږي.

## سپاه‌پاسداران:

# تهران به هېڅکله له واشنګټن سره خبرې ونه کړي

په داسې حال کې چې د واشنګټن او تهران ترمنځ کړکېچ مخ په ډېرېدو دی، د ایران د سپاه‌پاسداران انقلاب ځواک ویلي، تهران به هېڅکله له امریکا سره خبرې ونه کړي.

ایران دا خبرې د متحده ایالتونو د ولسمشر ټرمپ د وروستیو ځرګندونو په غبرګون کې کړې دي.

د ایران د سپاه‌پاسداران ځواک مرستیال مشر یدالله جواني د دغه هېواد له تسنیم خبري اژانس سره په خبرو کې ویلي، له امریکا سره به هېڅ ډول مذاکرې ونه کړي. نوموړي دغه راز دا خبرداری هم ورکړی، چې امریکا به هېڅکله د ایران پر ضد د پوځي اقدام جرئت ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسمشر ټرمپ ویلي وو، چې ایراني چارواکي دې ټیلیفون ورته وکړي. ټرمپ دغه راز په خپلو خبرو کې د ایران پر ضد د پوځي اقدام امکان هم رد نه کړ، خو ویې ویل چې له ایراني لوري سره خبرو ته تیار دی.

ټرمپ د تېرې پنجشنبې په ورځ په سپینه ماڼۍ کې خبریالانو ته وویل: «هغوی باید زنګ را ووهي او که داسې وکړي، موږ خبرو ته تیار یو. موږ هېڅ پته خبره نه لرو».

د تهران او واشنګټن ترمنځ دغه ناندرۍ داسې مهال دي، چې ډونالډ ټرمپ نږدې یو کال مخکې له ایران سره د نړیوالو قدرتونو له اټومي هوکړې ووت او له هغه راهیسې د تهران او واشنګټن په اړیکو کې کړکېچ زیات شو.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پنځو دایمي غړو او جرمني په ۲۰۱۵ ز کال کې له ایران سره د اټومي فعالیتونو په اړه د جوړ جاړي هوکړه وکړه.

د دې هوکړې له مخې به ایران د خپلو اټومي پروګرامونو فعالیت محدودواوه او نړیوالو به پر ایران بندیزونه کمول، خو ټرمپ ولسمشرۍ ته له رسېدو سره سم وویل، چې په دغه هوکړه کې د ایران د مزایلو پروګرام او له تروریستي ډلو د ایران د ملاتړ مسئله نه وه ذکر شوې، له دې امله یې کمزورې وبلله او امریکا یې ورڅخه وایسته.

په دې وروستیو کې د امریکا ځینو پوځي چارواکو هم ویلي، چې خپلو ګټو ته د ایران د ګواښ له امله یې د سمندري ځواکونو یوه ډله سیمې ته استولې ده.

د رویټرز خبري اژانس په خبره، د امریکا د سمندري ځواکونو یاده ډله د تېرې پنجشنبې په ورځ د سویس تر کانال تېره شوې ده.

د راپورونو له مخې، د امریکا (بي ۵۲) ستراتېژیکي بم غورځوونکې الوتکې هم وړمه ورځ په قطر کې د امریکایي ځواکونو په پوځي اډه سنټ کام کې ښکته شوې دي.

## د کتـاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: ميراحمد ياد

### نهم څپرکی
### پر خلکو نېک گومان کوئ




په زياتره برياليو سازمانونو کې چې کارکوونکی کار پرېږدي، نو دوی ورسره وروستۍ مرکه کوي. د دې مرکې موخه دا نه ده چې کارکوونکی دې بېرته ايسار کړي، بلکې موخه يې دا ده چې دوی کارکوونکو سره خپلې اړيکې ښې کړي. په دې کار شرکت کارکوونکو سره خپلې اړيکې ښې کولای شي. اورېدل پلورونکي هم بريالي کولای شي. د ښه پلورونکي په اړه د خلکو تصور دا دی چې ښه او خوږ وغږېږي، خو د خرڅلاو مديران چې څومره له اورېدونکي انسانه اغېزمنېږي، هومره له غږېدونکي انسانه هم اغېزمنېږي، ځکه اورېدونکی پوښتنې لري او پوښتنو ته ځوابونه غواړي.
يوازې خبرې مه کوئ، واورئ، ملگري پيدا کړئ او زده کړه وکړئ.
په ټولو اړيکو کې د ادابو مراعت انسان اراموي. سل تبليغات او جنجالونه دومره گټه نه کوي، لکه څومره يې چې نورو ته يو کوچنی کار کوي. له خلکو سره مينه؛ سترړيا او رواني فشار ختموي. د ټولو رواني فشارونو رېښه يوه شي کې ده: د خلکو په اړه منفي برداشت!
نو خلکو سره مينه وکړئ، ښه گومان پرې وکړئ، خپله به پوه شئ چې ژوند څومره ښکلی دی.
د خلکو مينه هله امتحانېږي چې کارونه د هغوی په خوښه نه وي. ستاسې ترفيع چې رد شي څه احساس کوئ؟ يا که د يوې ټولنې غړيتوب رد شي څه احساس کوئ؟ يا مو که په کړي کار نيوکه وشي څه احساس کوئ؟
دا ياد ساتئ: د ماتې په اړه ستاسې ذهنيت، ستاسې د اوسنۍ ماتې او راتلونکي بري ترمنځ واټن دی.
کارونه چې په خوښه نه وي، دې حالاتو کې د خلکو گرانښت لپاره بنامين فريليس ډېره ښه لاره ښودلې ده. فريليس ټيټ ټولنيز محبوبيت درلود، خو بيا هم د امريکا د فولادو د شرکت عامل مدير شوی و. دی (د ژوند مجلې ۱۵ اکتوبر گڼې په حواله) وايي:
(مهمه دا ده چې مسائلو ته له کومې زاويې گورئ. زما هېڅ استاد بد نه دی اېسېدلی. په طبيعي ډول راباندې د نورو شاگردانو په څېر فشارونه راغلي دي، خو ما له ځان سره فکر کړی چې که دومره فشار راباندې راځي، نو ملامت به زه يم. ټول مشران راباندې همداسې گران وو. ټول عمر مې د دوی د راضي کولو هڅه کړې ده. د امکان په صورت کې مې د هغوی له تمې لوړ خدمت ورته کړی دی.
ځينې وخت نهيلی شوی هم يم، مثلاً زه ترفيع ته په تمه وم، خو بل ته يې ورکړه. ما بيا هم دا فکر نه دی کړی چې د اداري سياستونو ښکار شوم، يا گنې راسره رئيس ضد يا زياتی وکړ. ما غوسه نه ده کړې، کار مې نيمايي کې نه دی پرېښی، د دې پر ځای مې هر څه ته دليل لټولی دی. ما به ويل ښايي هغه به د ترفيع ډېره وړتيا لرله. يا به مې دا فکر کاوه چې د راتلونکو برياوو لپاره څه کولای شم؟ د دې تر څنگ د هېڅ ماتې لپاره ځان ته نه يم غوسه شوی او هسې مې په ځان رټلو وخت نه دی ضايع کړی.)
نو حالت که سم نه وي تاسې همدا خبرې دريادوئ او دوه کاره کوئ:
١. له ځانه دا پوښتنه وکړئ، چې د راتلونکو برياوو لپاره څه کولای شم؟
٢. هسې خپگان مه کوئ، ځان مه رټئ او د بيا بريالي کېدو پلان جوړ کړئ.
په لنډ ډول دا اصول وکاروئ
١. ځان لوړېدو ته برابر کړئ. په خلکو گران شئ. د خلکو په خوښه چلند وکړئ. په دې کار به د هغوی ملاتړ ترلاسه کړئ او د خپل بري پلان ته به نوې انرژي پيدا کړئ.
٢. د ملگرو موندلو کې مخکې شئ. هر ځای کې ځان خلکو ته ور وپېژنئ. د خلکو نامې سمې زده کړئ او خپل نوم ورته سم ووايئ. د نويو ملگرو د لا ښه پېژندو لپاره ورته ليکونه وليکئ.
٣. فردي توپيرونه ومنئ. له هېچا دا تمه مه کوئ چې پوره دې وي. خلک د توپير حق لري. تاسې د خلکو په اصلاح مامور نه يئ.
٤. د خپلې ذهني دستگاه مثبت موج ته غوږ شئ. د خلکو ښېگڼې ولټوئ. بدگنو پس يې مه گرځئ. د نورو په اړه خپل فکر د چا په خبرو مه بدلوئ. د خلکو په اړه مثبت تصور ساتئ، له دې به مثبتې پايلې ترلاسه کړئ.
٥. د سم اورېدو هنر زده کړئ، دا کار په تمرين کېږي. نور خلک خبرو ته وهڅوئ، په خپلو برياوو، نظرياتو او ليدلورو د غږېدو وخت ورکړئ.
٦. ټولنيز او فردي آداب مراعت کړئ. دا کار خلک خوشالوي او تاسې ته هم گټه لري.
٧. که مو د پرمختگ لاره ډب شوه، نور مه ملامتوئ. دا ياد ساتئ: د ماتې په اړه ستاسې اوسنی ذهنيت ستاسې او د راتلونکي بري ترمنځ واټن دی. **دوام لري...**

# سپين غر د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




سپين غر د لوړو زده کړو موسسه په ۱۳۸٦ لمريز کال کې د لوړو زده کړو په وزارت کې ثبت شوې او د قانوني مرحلو تر تېرولو وروسته يې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې د ننگرهار ولايت د جلال اباد په ښار کې پر فعاليت پيل کړی دی. په لومړي سر کې يې يوازې يو پوهنځی (معالجوي طب) درلود. د يو کال په تېرېدو سره د هېواد د لوړو زده کړو وزارت ورته د دوو نورو پوهنځيو (ستوماتولوژۍ او طبي ټکنالوژۍ) منظوري هم ورکړه. د سپين غر د لوړو زده کړو موسسې د محصلينو د چارو مرستيال عبدالله سحر وايي، دې موسسې تر گام پر گام پرمختگ وروسته په پلازمېنه کابل کې هم خپله دويمه څانگه پرانيسته .
د ښاغلي سحر په خبره، د سپين غر د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال درې پوهنځي (معالجوي طب، ستوماتولوژي او طبي ټکنالوژي) لري چې هر پوهنځی يې بېلابېل ډيپارټمنټونه لري. ښاغلی سحر وايي، د دغو دريو پوهنځيو رسمي جواز لري، خو هڅه کوي چې ډېر ژر د انجنيري پوهنځي لپاره هم جواز واخلي، چې په دې برخه کې يې کارونه تر ډېره مخ ته تللي دي. د نوموړي په خبره، ټول هغه معيارونه يې پوره کړي، چې يو پوهنتون يې بايد ولري او لوړو زده کړو وزارت ته يې په دې برخه کې وړانديز هم کړی، څو دغه اکاډميک مرکز له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع ورکړي او تر ډېره يې په کارونو کې پرمختگ هم شوی دی.
د سپين غر د لوړو زده کړو موسسې په کابل څانگه کې اوسمهال لږ تر لږه ۱۲۵۵ محصلين په دريو واړو پوهنځيو کې پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې ۳۳۰ يې ښځينه او ۹۲۵ يې نارينه محصلين دي. ښاغلی سحر وايي، تر اوسه پورې يې له ٦٥۰ ډېر محصلين له معالجوي طب، ستوماتولوژۍ او طبي ټکنالوژۍ پوهنځي څخه د لېسانس په کچه فارغ کړي، چې ډېری يې اوس د هېواد په دولتي او خصوصي روغتونونو او لابراتوارونو کې کار کوي.
د سپين غر د لوړو زده کړو موسسه ۱۲۱ استادان لري، چې له دې ډلې يې لس تنه د دوکتورا، ۷۱ يې د ماسټرۍ او پنځوس نور يې د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.
د دې موسسې د محصلينو د چارو مرستيال عبدالله سحر وايي، له دغو استادانو پرته، نور قراردادي استادان هم لري. ډېری استادان يې له کابل طبي پوهنتون څخه دي، چې د تدريس په برخه کې له دوی سره همکاري کوي. نوموړی وايي، ښځينه استادانې هم لري، چې د شته استادانو ۳۰ سلنه جوړوي.
د ښاغلي سحر په خبره، موسسه يې په کور دننه او بهر دواړو کې له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړيکې لري او وخت ناوخت د هغوی له تجربو گټه اخلي، چې ترڅنگ يې خپلې تجربې او ستونزې هم له هغوی سره شريکوي. د نوموړي په خبره، د سپين غر د لوړو زده کړو موسسه، چې تر ډېره په طبي برخه کې کار کوي، له (ډبليو. اچ .اوو) او ملگرو ملتونو له سازمان سره هم ثبت او راجستر ده، نو هغه محصلين چې غواړي د ځينو بهرنيو پوهنتونونو په کادري روغتونونو کې تخصص واخلي، په اسانۍ سره دغه چانس تر لاسه کولی شي او خپلې زده کړې مخ ته بېولی شي.
د دې موسسې د محصلينو د چارو مرستيال وايي، د محصلينو لپاره دوه ډوله کتابتون لري، چې يو يې انلوگ او بل هم ډيجيټالي دی. دی وايي، په انلوگ کتابتون کې يې د محصلينو لپاره د هغوی د مسلک اړوند بېلابېل کتابونه چمتو کړي، چې محصلين کولی شي وخت ناوخت له دغه کتابتون څخه گټه واخلي.
د کتابتونونو تر څنگ، د سپين غر د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلينو لپاره يو کادري روغتون هم لري، چې محصلين کولی شي پکې عملي زده کړې وکړي. د ښاغلي سحر په خبره، ځانگړی روغتون يې د محصلينو په چوپړ کې دی، چې مجهز لابراتوارونه، د تطبيقاتو څانگې او ځانگړي استادان يې يوازې د دې لپاره گومارلي، چې د معالجوي طب، ستوماتولوژۍ او طبي ټکنالوژۍ د پوهنځيو محصلينو ته عملي زده کړې ورکړي. دغه راز وخت ناوخت د محصلينو لپاره ورکشاپونه، سمينارونه او داسې کورسونه دايروي، چې کولی شي د محصلينو وړتياوې لوړې کړي او په راتلونکې کې د عملي کار لپاره تيار شي.
د نوموړي په خبره، مخکې له دې چې فارغ شوي محصلين يې د عامې روغتيا وزارت لخوا د تخصص په ازموينه کې گډون وکړي، دوی ورته په همدې نوم دلته يو پروگرام پيل کړی، چې لومړی په دغه پروگرام کې گډون کوي او د تخصص ازموينه ورکوي، څو وکولی شي په ډاډه زړه د عامې روغتيا وزارت د تخصص په ازموينه کې گډون وکړي.
د دې موسسې د محصلينو د چارو مرستيال وايي، د سهار له اتو د غرمې تر ۱۲ بجو پورې محصلين د زده کړو لپاره ور غواړي، چې تر څنگ يې محصلين د دې موسسې په کادري روغتون او لابراتوارونو کې عملي زده کړې هم کوي. نوموړی وايي، راتلونکی تحصيلي کال به هڅه وکړي، چې د ورځې په دوو ټايمونو کې محصلين د زده کړو لپاره ور وغواړي.
سپين غر د لوړو زده کړو موسسه د ممتازو محصلينو لپاره له شل سلنه نيولې تر ۳۰ او پنځوس سلنې پورې تخفيف لري. د ښاغلي سحر په خبره، هغه محصلين چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا دوی ته ور پېژندل کېږي، د هغوی اقتصادي وضعيت ته په کتو ځانگړی تخفيف ورکوي.
ښاغلی سحر مني چې په لوړو زده کړو وزارت کې به د خصوصي پوهنتونونو فارغ شويو محصلينو ته د تحصيلي اسنادو په ورکړه کې ستونزې او ځنډ پېښېږي، خو نوموړی يې لامل د خصوصي پوهنتونونو زياتوالی او په دغه وزارت کې د دغو پوهنتونونو لپاره يوازې يو رياست بولي. نوموړی وايي، يوازې يو رياست نه شي کولی له سلو څخه د زياتو خصوصي پوهنتونونو اړوند کارونه پر مخ بوځي، خو هڅه کوي چې تر فراغت وروسته د يوې مياشتې په اوږدو کې د فارغ محصل لپاره سرټيپيکېټ او ترانسکرپټ ورکړي. نوموړی وايي چې د محصلينو د تحصيلي اسنادو کارونه تر ډېره خپله د دوی اداره پرمخ وړي، څو په دې برخه کې محصل له ستونزو سره مخ نه شي.
د سپين غر د لوړو زده کړو موسسې د محصلينو د چارو مرستيال وايي، خصوصي پوهنتونونه هم د هېواد د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ او د همدغه وزارت د قانون په رڼا کې فعاليت کوي، نو د ځينو کسانو دا خبره چې د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د تحصيلي اسنادو تر منځ توپير دی، په کلکه ردوي. دی وايي، نن سبا ډېری هغه پوهنتونونه چې د نړيوالو پوهنتونونو د کتې گورۍ په سر کې راځي، خصوصي پوهنتونونه دي. ځکه دوی محصلينو ته د پيسو په بدل کې زده کړې ورکوي، نو خپله محصلين هم اجازه نه ورکوي، چې د زده کړو کيفيت يې ټيټ وي. دغه راز له فراغت وروسته محصلينو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا تحصيلي اسناد ورکول کېږي، چې د دولتي پوهنتونونو له تحصيلي اسنادو سره هېڅ توپير نه لري.
د سپين غر د لوړو زده کړو موسسې اداره غواړي، چې خپل دغه اکاډميک بنسټ ته په علمي او انکشافي دواړو برخو کې پراختيا ورکړي. ښاغلی سحر وايي، لومړۍ هڅه به يې دا وي، چې د پوهنتون ودانۍ پراخه کړي، ورپسې د پوهنځيو په شمېر کې زياتوالی راولي او له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړي. د نوموړي په خبره، د انجنيري پوهنځي د منظورۍ کارونه يې تر ډېره مخ ته تللي او تر څنگ يې د فارمسی، انستېزی، قابلگۍ او حقوقو پوهنځيو کارونه هم پيل کړي دي. دغه راز سپين غر د لوړو زده کړو موسسه هڅه کوي، چې په نږدې راتلونکې کې له هېواده بهر له ځينو پوهنتونونو سره هوکړې لاسليک کړي، چې له مخې به يې د دوی فارغ شوي محصلين د تخصص او نورو لوړو زده کړو لپاره په دغو پوهنتونونو کې شاملېږي.
د دې اداري مسوولين وايي، افغان ولسمشر خصوصي پوهنتونونو ته د نويو پوهنځيو او نورو څانگو د پرانيستلو چارې ځنډولې دي. ښاغلی سحر وايي، کله چې دغه محدوديت له منځه ولاړ شي، نو نوي پوهنځي او څانگې به پرانيزي. د نوموړي په خبره، د هېواد په گوټ گوټ کې خلک او ځوانان ترې غواړي، چې هلته څانگې پرانيزي، خو دوی به لومړی په هرات او خوست ولايتونو کې د څانگو د پرانيستو هڅه وکړي.
د سپين غر د لوړو زده کړو موسسې د محصلينو د چارو مرستيال وايي، دا چې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره خصوصي پوهنتونونو فعاليت پيل کړی، نو له فعاليت سره سم دغه پوهنتونونه نه شي کولی، ټول هغه امکانات چې يو پوهنتون يا د لوړو زده کړو موسسه يې بايد ولري، برابر کړي. ځکه پوهنتون بايد ځانگړې او پراخه شخصي ودانۍ ولري، څو دوی په ډاډه زړه پکې تاسيسات وکړي او د زده کړو لپاره يوه ښه او ارامه فضا برابره کړي. دغه راز نور هغه امکانات چې د پوهنتون محصلينو ته بايد په واک کې ورکړل شي، خصوصي پوهنتونونه نه شي کولی په يوازې ځان او ډېر ژر دغه امکانات برابر کړي. د ښاغلي سحر په خبره، د دولتي پوهنتونونو د طب او د همدې برخې اړوند پوهنځيو محصلينو ته اجازه ورکول کېږي، چې په دولتي روغتونونو کې کار وکړي او تخصص واخلي، خو په دې برخه کې له خصوصي پوهنتونونو سره د مور او ميرې چلند کېږي. نوموړی وايي، لږ تر لږه تر هغه چې خصوصي پوهنتونونه پر خپلو پښو درېږي، بايد په دې برخه کې ور سره افغان حکومت او په ځانگړې توگه د لوړو زده کړو وزارت مرسته وکړي. ښاغلی سحر وايي، اوس لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره يو رياست رامنځ ته کړی، چې دغه رياست پر يو وخت د ټولو خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ستونزو او چارو ته نه شي رسېدی، نو د ټولو خصوصي پوهنتونونو د ادارو غوښتنه دا ده، چې دغه رياست په معينيت بدل شي.
دغه راز د خصوصي پوهنتونونو اتحاديه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې د پوهنتونونو په تقويه کې ور سره مرسته وکړي او داسې قوانين رامنځ ته کړي، چې د افغانستان له شرايطو سره برابر وي. د دې اتحاديې مسوولين وايي، لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره داسې قوانين وضعه کړي، چې اوسمهال د پرمختللو هېوادونو په پوهنتونونو کې عملي کېږي. په داسې حال کې چې دغه قوانين تر اوسه پورې خپله په دولتي پوهنتونونو کې نه دي عملي شوي؛ خو لوړو زده کړو وزارت غواړي په جبري ډول يې په خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو کې پلي کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۱۵ |
| € | ۸۷,۵۰ |
| Rp. | ٥٤٦ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# درونگرایی و فواید حیرت انگیز آن در زندگی

**ترجمه: فایز کریمی**

درونگرایی یکی از مباحثی است که تصورات نادرست زیادی درباره‌اش وجود دارد و فرد درونگرا، معمولاً در باور عامه مردم به‌عنوان انسانی جامعه‌ستیز، سرد، خجالتی و تنها شناخته می‌شود و چنین ویژگی‌هایی به او نسبت داده می‌شود. این در حالی است که واقعیت امر کاملاً بر خلاف این تصورات نادرست است و درونگرایی، به‌عنوان یک ویژگی شخصیتی، می‌تواند در شرایط و موقعیت‌های گوناگون، برای فرد درونگرا ارزشمند باشد و به کمک او بیاید. در ادامه این مقاله پس از مقدمه‌ای کوتاه درباره این مسئله، به ذکر مزایای درونگرایی خواهیم پرداخت.

**درونگرایی افراد را به شنونده‌های خوبی تبدیل می کند**

یکی از صفات ذاتی افراد درونگرا این است که شنونده‌های ماهر و خوبی هستند. بث بوئلو، نویسنده کتاب «کار آفرین درون گرا: توانایی های خود را تقویت کنید و در شرایط خود موفقیت را به دست بیاورید» که خود را به‌عنوان فردی درونگرا می‌شناسد، در این باره عنوان می کند: «ما (منظور افراد درونگرا است) همان دوست یا همکاری خواهیم بود که به‌هنگام غصه و شادی شما گوش شنوایی برایتان خواهیم بود. ما می‌توانیم به صحبت‌های شما گوش بدهیم و با درک کافی، در غم یا شادی‌تان شریک شویم. بدون آنکه تلاش کنیم تا رشته کلام را در دست بگیریم و راجع به خودمان صحبت کنیم».

افراد برونگرا هنگام گفت‌وگو با دیگران ترجیح می‌دهند هر چه سریع‌تر وارد بحث بشوند و در مقایسه با کسی که درونگرا است، زمان کمتری را صرف فکر کردن به حرف‌های طرف مقابل‌شان می‌کنند. البته نه به این خاطریکه خودخواه باشند یا آنکه به مسائل طرف صحبت‌شان اهمیت ندهند، این تصور درباره افراد برونگرا نادرست است؛ تفاوت آن‌ها به‌دلیل رویکردشان هنگام گفت‌وگو است. در واقع دوست دارند رویکردی تعاملی داشته باشند و خودشان هم در بحث شرکت کنند و به این طریق به نتیجه برسند.

در سوی دیگر، فرد درونگرا ترجیح می‌دهد اطلاعات به‌دست‌آمده از صحبت‌های طرف مقابلش را در ذهنش، و بدون هیچ صحبتی پردازش و به آن‌ها فکر کند. این مهارت آن‌ها را به شنونده‌های خوبی تبدیل می کند؛ شنونده‌هایی که پس از درک کامل صحبت‌های طرف مقابل‌شان، قادر خواهند بود با دقت و ملاحظه، نقطه‌نظرشان را در جواب صحبت‌های او در اختیارش بگذارند.

**افراد درونگرا قبل از حرف زدن، راجع به آن فکر می کنند**

این حقیقتی اثبات شده است که افراد درونگرا، چندان میلی به صحبت کردن نشان نمی‌دهند و بیشتر ترجیح می‌دهند به صحبت‌های دیگران گوش بدهند. زمانی هم که تصمیم می‌گیرند چیزی بگویند، کلمات‌شان را هوشمندانه و با دقت انتخاب می‌کنند. در واقع کسی که به درونگرایی گرایش دارد، تنها زمانی صحبت می کند که واقعاً حرفی برای گفتن داشته باشد. به همین خاطر افراد درونگرا، هنگام صحبت کردن، شانس بیشتری برای تأثیر گذاشتن بر طرف مقابل‌شان دارند.

البته نباید از این مسئله غافل شد که درونگرایی، اساساً باعث می‌شود تا افراد، پیش از آنکه شروع به صحبت کنند، زمان نسبتاً زیادی را صرف فکر کردن می کنند و این مسئله، به‌عنوان مثال در جلسات کاری که در آن‌ها هر کس باید به‌سرعت ایده‌هایش را با دیگران در میان بگذارد، ممکن است دردسرساز بشود. برای کنار آمدن با این مسئله، بهتر است افراد درونگرا پیش از حاضر شدن در چنین جلساتی تصمیم بگیرند که صحبت‌هایشان را به‌عنوان اولین نفر مطرح کنند و راجع به این مسئله از قبل فکر کرده باشند. با رقابتی‌تر و پیچیده‌تر شدن گفت‌وگوی میان اشخاص حاضر در جلسه، ممکن است افکارشان شاخ و برگ پیدا کند و دیگر نتوانند ایده‌هایی را که در ذهن داشتند، مطرح کنند. همان اندازه که انتخاب هوشمندانه کلمات در گفت‌وگوهای حضوری حائز اهمیت است، در فضای مجازی هم می‌تواند نتایج خوبی به‌دنبال داشته باشد. کسانی که به درونگرایی گرایش دارند، در مقایسه با سایرین حضور کارآمدتری در فضای مجازی دارند، چراکه از نشان دادن واکنش‌هایی که روی‌شان فکر نکرده باشند و عواقبش را نسنجیده باشند، خودداری می کنند. کاربران شبکه‌های اجتماعی معمولاً با مشاهده مطالب گوناگون به‌طور تصادفی و بدون فکر کردن راجع به جوانب مختلف مسئله، شروع به کامنت گذاشتن می کنند. افراد درونگرا چنین رویکردی ندارند و بر اساس اصول و برنامه‌ای که دارند عمل می کنند.

**درونگرایی، باعث هوشیاری و توجه بیشتر به اطراف می شود**

مهارت دیگری که درونگرایی برای افراد به‌همراه دارد هوشیاری و توجه بیشترشان به محیط اطراف در مقایسه با سایرین است. مهارتی که بعضاً نویسنده‌ها از آن با اصطلاح «ابرنیروی» افراد درونگرا یاد می کنند. زمانی که دیگران در حال صحبت و ردوبدل اطلاعات با یکدیگر هستند، بخشی از حواس‌شان متوجه این فعالیت می‌شود. اما شخص درونگرا که معمولاً ساکت است، حواس جمع‌تری دارد و به مسائلی پی می‌برد که دیگران از آن‌ها غافل می‌مانند.

شاید با دیدن شخص درونگرایی که در جلسه یا جمعی از افراد ساکت نشسته است، تصور کنید که ذهنش جای دیگری است، اما در واقعیت امر، افکار او غرق در اطلاعات و صحبت‌هایی است که ردوبدل می‌شوند و با رویکردی منتقدانه، آن‌ها را تحلیل می کند.

در کنار این مسئله، درونگرایی توانایی دیگری هم برای چنین افرادی دارد و آن توانایی مطالعه رفتار حاضرین در جمع یا جلسه است. به این معنا که افراد درونگرا در مقایسه با دیگران، با دقت بیشتری زبان ایما و اشارات و حالات چهره حاضرین در جمع را زیر نظر می گیرند و به این صورت، به مسائلی پی می‌برند که احتمالاً از دید سایرین پنهان می‌ماند. این توانایی افراد درونگرا باعث می‌شود تا مهارت بیشتری در روابط بین‌فردی داشته باشند.

افراد درونگرا می توانند ویژگی‌های ناشی از درونگرایی را در اشخاص دیگر تشخیص بدهند. در واقع می‌توانند تشخیص دهند که اشخاص دیگر چه هنگامی در حال فکر کردن، پردازش اطلاعات یا زیر نظر گرفتن محیط اطراف‌شان هستند. زمانی که چنین ویژگی‌هایی را در شخص دیگر شناسایی می کنند، مزاحم او نخواهند شد و اجازه می‌دهند به نتیجه دلخواهش برسد و به همین خاطر دیگران در کنار او احساس راحتی بیشتری خواهند داشت. درونگرایی عجله را از افراد دور می کند و آن‌ها، با صبر و حوصله اجازه می‌دهند تا ارتباط‌شان با دیگران شکل بگیرد.

**افراد درونگرا در انتخاب دوستان‌شان دقت و ملاحظه زیادی دارند**

افراد برونگرا در حضور دیگران و در کنار آن‌ها، انرژی می گیرند و در مقابل، درونگرایی باعث می‌شود تا فرد در حضور دیگران به‌مرور زمان انرژی‌اش تحلیل برود. به‌همین خاطر است که افراد درونگرا با دقت و ملاحظه بیشتری دوستان‌شان را انتخاب می‌کنند. کسانی که درونگرا هستند، تعداد کمی دوست قابل‌اعتماد و صمیمی دارند و سعی می کنند، انرژی و زمان‌شان را صرف آن‌ها کنند. در مقابل، دایره آشنایان و دوستان کسانی که برونگرا هستند، وسیع‌تر است.

درونگرایی باعث می‌شود تا فرد در انتخاب دوستانش دقت و ملاحظه زیادی داشته باشد، به همین خاطر برقراری ارتباط نزدیک با این افراد کار چندان ساده‌ای نیست و به صرف کمی انرژی و حوصله نیاز دارد. اما اگر بتوانید اعتماد آن‌ها را به خود جلب کنید، در دوستی چیزی برای شما کم نخواهند گذاشت و معمولاً دوستانی وفادار، متعهد و باملاحظه هستند.

## هند او چین: د افغان سولې لپاره ګډ کار او هڅې کوو



د هند د بهرنیو چارو وزارت ویلي، هند او چین ژمنه کړې چې د افغان سولې په برخه کې به ګډ کار کوي او د دغه هېواد د ثبات او امنیت لپاره به ګډې هڅې تنظیموي.

د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند روېش کومار ویلي، د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي نوي ډېلي ته سفر کړی او له هندي ډېپلوماتانو سره یې د افغان سولې پروسې په اړه خبرې کړې دي.

نوموړي دغه راز د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال وجي ګوهالي سره هم لیدلي او دواړو هوکړه کړې، چې چین او هند به د افغان سولې په اړه له یو بل سره ګډ کار کوي.

هغه زیاته کړې، دواړو لورو په دې لیدنه کې د افغانستان پر اوسني وضعیت او د سولې د روانو فعالیتونو په اړه خبرې کړې دي.

سرچینې کاږلي، چین او هند ژمنه کړې چې د افغان سولې په برخه کې به ګډ کار کوي او د دغه هېواد د ثبات او امنیت لپاره به ګډې هڅې تنظیموي.

چینايي ډېپلومات دینګ شیجن ویلي، چې دوی له سیاسي لارو د افغان جګړې د حل پلویان دي او په دې برخه کې همکارۍ ته چمتو دي.

هندي چارواکو هم ویلي چې په سیمه کې به د افغان سولې او ثبات لپاره خپلو ګډو کارونو او هڅو ته ادامه ورکوي.

د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي په داسې حال کې هند ته سفر کړی، چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم تېره اونۍ هند ته سفر درلود او د افغان سولې په اړه یې خبرې کړې وې.

## ارګ: ډېر ژر به له طالبانو سره د مرکچي پلاوي نوملړ وروستی شي

افغان حکومت ویلي، ډېر ژر به له طالبانو سره د مرکچي پلاوي نوملړ وروستی شي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند هارون چخانسوري ویلي، دغه ټیم به د سولې د مشورتي لویې جرګې د سپارښتنو په نظر کې نیولو سره جوړ شي.

نوموړي په دې اړه ازادي راډیو ته ویلي: «څرنګه چې د سولې مشورتي لویې جرګې استازو وړاندیز کړی و، چې له طالبانو سره د خبرو لپاره مرکچي ټیم دې جوړ شي، د مصالحې د رهبرۍ شورا غړي به په خپلو راتلونکو ناستو کې پر دې موضوع بحث وکړي او دا نوملړ به وروستی کړي». نوموړي په دې تړاو زیات جزیات نه دي ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې جمعې په ورځ د مشرانو جرګې مشر فضل الهادي مسلمیار له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، چې له طالبانو سره د مرکچي پلاوي لومړنی نوملړ برابر شوی دی.

اجرایه ریاست هم ویلي چې وروستی نوملړ به د را روانې اونۍ په ترڅ کې په ډاګه شي.

په ورته وخت کې په قطر کې د طالبانو د دفتر ویاند سهیل شاهین ازادي راډیو ته په یوه لیږلي پیغام کې ویلي، چې دوی تر ډېره له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو ټینګار کوي، چې دا د سولې د خبرو بهرنی اړخ دی او که دغه اړخ وروستی شي، نو کورني اړخ ته به د خبرو زمینه برابره شي.

د یادونې ده چې د روانې میلادي میاشتې په نهمه د قطر په مرکز دوحه کې د امریکايي پلاوي او طالب استازو ترمنځ د خبرو شپږم پړاو پای ته ورسېد، چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تر دغه پړاو خبرو وروسته په خپله ټوېټرپاڼه ولیکل: «موږ په قطر کې خبرې سرته ورسولې، موږ په افغانستان کې د جګړې د ختمولو لپاره د چوکاټ د ټاکلو پر وړاندې ورو، خو سم پرمختګ کړی دی. اوس به یې مونږ د عملي کولو لپاره په مهمو ټکو کار کوو».

له دې سره د سولې شورا غړي جمال الدین بدر د افغان حکومت له خوا له طالبانو سره د سولې د نوي مذاکراتي ټیم له جوړېدو هرکلی کړی او ویلي یې دي چې که په دغه نوملړ کې محدود کسان وټاکل شي، د سولې خبرې به تر کنټرول لاندې وي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai · TURKISH AIRLINES · Emirates · ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د مې ۱۲مه | دریيم کال | ۳۷۱یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af · twitter/MaseerDaily · Facebook/MaseerDaily

یکشنبه ۱۳۹۸/۲/۲۲
د سهار اذان ۰۳:۱۷ · د ماښام اذان ۰٦:۵۰
رمضان کريم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۷ | ۳۱ | ۳٦ | ۳٦ | ۳۲ | ۳۲ |
| ۱٤ | ۱۸ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۷ | لمر ختل ۰٤:۵٤ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:۵۰ | ماخوستن ۰۸:۲۳

## نړۍ




## ملګري ملتونه: حوثیانو هوکړه کړې چې د یمن له دريو مهمو بندرونو وځي



ملګرو ملتونو ویلي، د یمن حوثي یاغیانو هوکړه کړې چې د دغه هېواد له دريو مهمو بندرونو خپل وسله وال وباسي.

حوثیان وروسته له هغې دغه لوی ګام پورته کوي، چې په تېره ډسمبر میاشت کې د دغه هېواد د جګړې ښکېلو غاړو پر اوربند هوکړه وکړه.

حوثي چارواکو هم پر ټوېټر کې د خپلو وسله والو د وتلو خبره منلې ده.

ملګرو ملتونو دغه راز ویلي، لا هم مالومه نه ده چې له دغو سیمو د حوثیانو له وتلو سره به د یمن دولتي ځواکونه هم ورته کار وکړي که نه.

په یمن کې د ملګرو ملتونو د څارونکو او پلټونکو مشر جنرال مایکل لولسګارډ، چې د هوکړې څارنه کوي، ویلي چې حوثیان به ډېر ژر له حدیدې، سلیف او راس عیسی بندرونو د خپلو ځواکونو ایستل پیل کړي.

حدیده د یمن تر ټولو لوی بندري ښار دی، چې دغه هېواد ته ترې خوراکي او غیرخوراکي توکي واردېږي. سلیف بندر هم د غنمو واردولو لپاره کارېږي او له راس عیسی هم تېل دغه هېواد ته لېږدول کېږي.

د ملګرو ملتونو دغه څارونکي ویلي، دغه بندرونه پر هغو میلیونونو یمنیانو د مرستې وېشلو لپاره مهم دي، چې د لوږې له جدي ګواښ سره مخ دي.

له دغو بندرونو د حوثیانو وتل تر اوسه یو اړخیز دي، خو ورسره په دغه هېواد کې د کورنۍ جګړې د پای ته رسولو لپاره خبرې دوام پیدا کوي.

## د ملګرو ملتونو ۷۰ غړو هېوادونو له شمالي کوريا غوښتي چې له پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي



د ملګرو ملتونو ۷۰ غړو هېوادونو له شمالي کوريا غوښتي، چې له اټومي وسلو، بالسټیک توغندیو او ټولو هغو پاروونکو اقداماتو څخه ډډه وکړي، چې نړیوال ټيکاو ته ګواښ پېښوي.

د امریکا متحده ایالتونو، جنوبي کوريا، د اسیا، لاتیني امریکا، افریقا او اروپا ډېریو هېوادونو او د ملګرو ملتونو غړو دغه غوښتنه په هغه پرېکړه لیک کې کړې، چې طرحه یې فرانسې وړاندې کړې وه.

بلخوا روسیې او چین چې د شمالي کوريا متحدان دي، د دغه سند له لاسلیکولو ډډه کړې ده.

له شمالي کوريا څخه دغه غوښتنه داسې مهال مطرح کېږي، چې دغه هېواد تېره اونۍ هم دوه ځله د لنډ واټن ویشتونکو توغندیو ازمویني وکړې.

دغه ازمویني په داسې حال کې کېږي، چې د امریکا او شمالي کوريا د مشرانو ترمنځ تر دوه ځلي ناستو وروسته، په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو په اړیکو کې کړکېچ یو ځل بیا زیات شوی دی.

له دغو ازموینو وروسته د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ وویل، چې د پیونګ یانګ له دغو اقداماتو هېڅوک نه دي خوښ او دغه هېواد باید له نورو پاروونکو اقداماتو ډډه وکړي.

دغه راز جنوبي کوريا بیا ویلي، چې د دغو ازموینو علت ښايي د شمالي کوريا نارضایتي وي، ځکه چې پر دغه هېواد د امریکا د بندیزونو د لرې کولو په برخه کې هېڅ اقدام نه دی شوی.

له دغو ازموینو سره هممهاله امریکا ویلي چې د شمالي کوريا یوه باروړونکې بېړۍ یې ضبط کړې ده.

د امریکا عدلیې وزارت ویلي، دغه بېړۍ چې شمالي کوريا ته یې د ډبرو سکاره لېږدول، ځکه ضبط شوې چې پر دغه هېواد له لګېدلو بندیزونو څخه یې سرغړونه کړې ده.

## نامزدان پیشتاز انتخابات ولسی جرگه کابل، دروازهٔ شورای ملی را بستند



نامزدان پیشتاز انتخابات ولسی جرگه کابل، دروازهٔ شورای ملی را بستند و خواستار اعلام نتایج این حوزهٔ انتخاباتی، پیش از انتخابات هیئت اداری این جرگه شدند.

انتخابات ولسی جرگه، حدود هفت ما پیش برگزار شده و نتایج نهایی سایر حوزه های انتخاباتی به استثنای کابل اعلام شده است.

کمیسیون شکایات انتخاباتی گفته بود که فیصله‌اش را در مورد نتایج انتخابات کابل نهایی نموده و آن را در هفدهم ثور برای اعلام به کمیسیون مستقل انتخابات سپرده است.

عبدالقادر ځاځی وطندوست رئیس دارالانشای ولسی جرگه، پنجشنبه گذشته به پژواک گفته بود که اگر تا شنبه (دیروز) نتایج نهایی ولایت کابل اعلام نشود، آنان بدون حضور نمایندگان کابل، انتخابات هیئت اداری ولسی جرگه را برگزار می کنند.


اما دیروز حدود ده تن از نامزدان پیشتاز نتایج ابتدایی حوزه انتخاباتی کابل، با حدود یک هزار تن از هواداران شان، در مقابل شورای ملی گردهمایی اعتراضی نموده و دروازهٔ این شورا را نیز مسدود کردند.

شینکی کروخیل یک تن از نامزدان پیشتاز کابل، در این گردهمایی به رسانه ها گفته است، آنها تا زمانی که نتایج نهایی حوزه کابل اعلام نشده باشد، اجازه نمی دهند که انتخابات هیئت اداری این جرگه برگزار شود.

او افزوده است: «خوبترین انتخابات به مقایسهٔ دیگر ولایات در کابل برگزار شد، چه دلیلی وجود دارد که انتخابات تمام کشور مورد تائید کمیسیون‌ها شده و از کابل قابل تائید نمی باشد؟ هیچ برای ما قابل پذیرش نیست».

## ژوند

## بریا یعنې دا چې...



بریا؛ یعنې د کار له پای ته رسولو وروسته کله چې د کور پر لور ځې، داسې احساس وکړې چې نن مو ډېر ښه کارونه تر سره کړي او پر خپلې دندې شکر وباسې.

بریا؛ مانا دا چې له مالي اړخه پر ځان دومره بسیا یاست، چې ورځنی ژوند مو په پوره خوښۍ سره تېر کړی او د دې وېره هم درسره نه وي، چې د نشتون یا مرګ په صورت کې به مو کورنۍ له مالي ستونزو سره مخ شي او د هغوی لپاره مو داسې بنسټيز کارونه کړي وي، چې وکولای شي خپل ژوند پر مخ بوځي.

بریا؛ مانا دا چې کامل ایمان ولرئ؛ داسې ایمان چې په سمه لاره مو برابر کړي، هغه څه چې لازم دي د کولو اجازه یې درکړي او که د نه کولو وي، همدا ایمان د دې سبب شي چې مخه مو ونیسي او پرې نه ږدي چې دغه ډول بې مانا کارونه ترسره کړی.

بریا؛ یعنې کله چې د ټولو کارونو له ترسره کولو وروسته د خوب بسترې ته لاړ شی او د خپلو کارونو په اړه فکر وکړی او هغه کارونه چې د ورځې په اوږدو کې مو ترسره کړي، داسې کارونه وي، چې پر کولو یې پښېمانه نه یاست، بلکې خوشاله یاست او د خدای پاک شکر ادا کړی.

## له روژه ماتي وروسته مو د بدن مايعات پوره کړئ!



د روژې په نیولو سره په بدن کې اوبه او انرژي کمېږي، په دغه وخت کې وجود انرژۍ ته اړتیا لري، چې په بېړه د بدن اړتیا پوره کړي. خرما او د مېوو اوبه په دې برخه کې ګټور ثابتېدای شي. په خوړو یې د بدن د ګلوکوزو اندازه عادي حالت ته راځي او سربېره پر دې په وجود کې د معدني موادو توازن هم ساتي.

بله دا چې ډېر خواږه خوړل ښايي روغتیا ته زیانمن تمام شي، ښه دا ده چې هر څه د یوه معیار له مخې وکارول شي، داسې چې نه مو پر معده بوج راشي او نه هم په بدن کې د مايعاتو له کمښت سره مخ شی.

انټي اوکسیډونه، ویټامینونه، پوټاشیم او ځینې نور معدني مواد د بدن له اساسي اړتیاوو شمېرل کېږي. د مېوو او د هغو له اوبو په ګټې اخیستو سره کولی شو، چې د وجود روغتیایي توازن وساتو. دا چې په روژه کې د انسان په ورځنيو عادتونو لکه خوب، خوراک، څښاک او نورو کې بدلون راځي، نو دغه څه تر ډېره زموږ د ستړیا لامل ګرځي. د دې ستړیا د لرې کولو لپاره د مېوو او د هغو له اوبو څخه ګټه واخلئ.